پوهاند دوکتورم.ا. زیار
اکسفورډ، ۱۸ فېبروري ۲۰۱۴

سهیلا لکه سهېل
د شعروادب پر هسک یوه تلځلانده ستوریانۍ
ستا دښایست ګلونه ډېر دي
ځولۍ مې تنګه، زه به کوم کوم ټولومه

تر دغې زړه راکښونې ټپې راته نور داسې ښایسته ښکلي ګلوییونه پرلاس رانغلل چې په ګلباران یې د اغلې خور. غاړې سهیلاجانې نمانځغونډه نوره هم پسې رنګینه او ګلورینه کړای شم.
سهیلا په رښتینه مانا، لکه د سهېل ستورى زمور. د ادب و فرهنګ پر اسمان لومړى ځل هماغه مهال پر ځلېدو راغلې وه چې تورتم رونو پلوشو یې لا د ډېرو دوډپالو سترګې برېښولې او برندیې ورکتلاى نه شول.
هغه داسې شپې ورځې وې چې ښځینه ښکلااو سا ندې سندرې لاد کورکهاله د لوړو دېوالونو دننه غربونیولې او زنداني وې او رابهر یې لیدا اورېدا یو پدل، یوه تابو ګڼل کېده.

دېرش- دودېرش کاله پخوا اغلې سهیلاچې لومړۍ پلا له ښکلې پښتنې څېرې سره د هېواد پر کچ د لو
مړي لروینون (تلویز یون) پر پرده راوځلېده، ډېرې ځانساتې همزولې یې سیالۍ ته راوننګېدلې.
یوخداى پوهېده چې هغه شپې ورځې د تګ راتګ په بهیرکې پخپله پردې باندې څه تېرېدل، او ترشا یې روښانده کورنۍ تر کوم بر یده د خپلو پردو د ستغو سپورو، تورونواو پېغورونو نښه او موخه ګرځېدلې وه؟

دا لا د ژورنالېزم پو هنځي زده کړياله وه چې د خپلې روښا ندې کورنۍ اواستادانو په هڅونه يې د خپلې څانګپوهيزې راتلو نکې د رغاونې لپا ره دغې وينيزې-اوريزې رسنۍ ته مخه وکړه. له ازمايښې بر يالۍ را ووته، خو له يوه لنډ انانسري کړاو(مشق) سره د ويا ندۍ او وړاندېينې(پرېزنټېشن ) جوګه شوه.

هغه لنډمهالي کړاو ته تر هرڅه له مخه په دې پلمه اړېستل شوې وه چې ګوندې پښتو يې ګړدودي رنګ لري. په نورو ټکو،د نورو پر خلاف يې پښتو له پارسي اغېزه لرې پاتې ده، دبېلګې په توګه: پلان ، پروژه... او ان سوچه پښتو(مرستيال) بې له کلستر (ابتدأ پرساکن) څخه وايي.
داځکه چې دې د خپل خواخوږي پلار د پوځي دندې له بر برکته په يوه پښتني چاپېرپال(کندهار)کې نړۍ ته سترګې غړولې، لومړنۍ زده کړې يې هم په ګردېز او خوست کې په خپله مورنۍ-پلرنۍ پښتو بشپړې کړې اوهله يې بيا منځنۍ او لوړې په ((دوه ژبې)) پلازمېنه کې په پارسي ژبه سرته رسولې دي.
داسمه ده، چې ګړنۍ پښتو يې د کوردننه او بهر زيا تره کرلانۍ پاتې شوې، خو د ليک لوست دايې د هېواد سراسري دوده پښتو پاتې شوې، او راروسته يې هم زموږ د((يوې-کره ليکنۍ پښتو)) او ((نوي ازاد پښتو شعر)) غورځنګ په سيوري کې پر لېسې کره کړې چې دهمدې له زېږون سره سم يې پيلامه رانښلول شوې ده.
په دې توګه يې دغه دويمه ژبه هله راخپله کړې چې د ((پښتوپلار)) په خبره ، په هغه خوم کې لا نه وه غوپه شوې!
له نورو ډېرو پخوانو او هممهالو ويناندانو او د ېکلېماتورانو سره د اغلې سهيلايو غوره توپير دادی چې پخپله يې هم د يوې ليکوالې او شاعرې په توګه په پنځونه او تيارونه کې برخه اخېستې ده.
له څانګپوهې(مسلک) او بيا ژبې، ادب وفرهنګ سره يې د بې کچې مينې او لېوالتيا څرګندو يې داچې يوخوا يې په جلاوطنۍ کې په ادبي-فر هنګي بنډار ونو کې کار نده برخه اخېستې او بلخوا يې د

هېواد له ملي تلويز ون سره د همکارۍ له لارې په کوډګر اواز کې خپلو جنګ و جهل ځپلو پرګنوته د سولې او پټمن انساني ژوندوژواک پيغام رسولی، او ورسره ورسره بيا داچې د تنکي پښت په رسنيزه روزنه کې يې هم يوه په زړه پورې ونډه ترسره کړې ده.
د خوږغږې وياندې، رسنوالی، ليکوالې او شاعرې اغلې سهيلا اصغري(نظيمي) د لا ډېرو ځلاوو او بر برېښناوو په هيله!
ستاسې د ټولو مننډوی زيار